تاسې کې دې هېڅوک داسې نه وايي چې: اې الله! که خوښه دې وي نو بخښنه راته وکړه؛ که خوښه دې وي رحم راباندې وکړه؛ که خوښه دې وي رزق راکړه، بلکې خپله غوښتنه بايد په ټينګه وکړي، ځکه الله تعالى هغه څه کوي چې هغه يې غواړي، هېڅوک يې مجبورولى نشي

له ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دى، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «تاسې کې دې هېڅوک داسې نه وايي چې: اې الله! که خوښه دې وي نو بخښنه راته وکړه؛ که خوښه دې وي رحم راباندې وکړه؛ که خوښه دې وي رزق راکړه، بلکې خپله غوښتنه بايد په ټينګه وکړي، ځکه الله تعالى هغه څه کوي چې هغه يې غواړي، هېڅوک يې مجبورولى نشي». او د مسلم روايت دى چې: «غوښتنه دې په ټينګه وکړي، او هيله (او اميد) دې لوى وساتي، ځکه هېڅ شى الله تعالى ته په عظمت نه قائلېږي مګر دا چې هغه يې ورکوي».

[صحيح دى] [متفق عليه دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم لدې منع فرمايلې ده چې دعا ته له څه شي سره ټراو ورکړل شي، که څه هم د "الله تعالى مشيئت وي؛ ځکه جوته ده چې الله پاک بخښنه نه کوي مګر چاته چې وغواړي، نو د مشيئت شرط اېښودل هېڅ معنا نه لري، ځکه دا شرط يواځې له هغه چا سره اېښودل کېږي چې له خوښې پرته پرې په مجبور سره يو کار تر سره کېږي يعنې هغه يې نه غواړي، حال دا چې الله تعالى له دې او هر ډول نېمګړتياوو څخه پاک دى، رسول الله صلى الله عليه وسلم د حديث په پاى کې جوته کړې ده چې هېڅوک الله تعالى مجبورولى نه شي، همدارنګه، الله ته د هېڅ شي کول سخت ندي، ځکه هغه ناتوان نه دى، چې ورته ووايو: "که غواړې چې فلانى شى راکړې نو رايې کړه. ځکه د مشيئت يادونه داسې ښکاري لکه د الله تعالى له بخښنې څخه ځان مړه خوا ښودل لکه چې اړتيا ورته نه وي، نو د ويونکي دا وينا چې وايي: که غواړې نو رايې کړه؛ هغه مهال کارول کېږي چې يا خو هغه کس نه بې نيازه يې، او يا خو هغه ناتوانه وي، خو څوک چې قادر وي او اړتيا ورته وي، نو هغه ته خپل حاجت لوى ښودل کېږي او د يو بې وزله انسان په توګه تري سوال کېږي، او هغه ته پناه وړي، ځکه هغه غني (بې نيازه)، کامل، او پر هر څه قادر ذات دى.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5978